چا چې د الله جل جلاله لپاره جومات آباد کړ، نو الله تعالى به ورته د هغه په څېر کور په جنت کې آباد کړي

له محمود بن لبيد رضى الله عنه څخه روايت دى چې: عثمان بن عفان رضي الله عنه غوښتل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم جومات جوړ کړي، نو خلکو بده وګڼله، او دا يې خوښ وګڼل چې په خپل حال يې پرېږدي، نو ويې ويل چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: « چا چې د الله جل جلاله لپاره جومات آباد کړ، نو الله تعالى به ورته د هغه په څېر کور په جنت کې آباد کړي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

عثمان بن عفان رضي الله عنه غوښتل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مسجد د لومړۍ وداني په پرتله په ښه بڼه جوړ کړي، خو خلکو دا کار بد وګاڼه، ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې د مسجد له وداني څخه يې بڼې بدلون مونده، نو مسجد له ښکتو څخه جوړ و او چت يې د خرما له پاڼو څخه، خو عثمان رضي الله عنه غوښتل چې په ډبرو او ګچ سره يې جوړ کړي، نو عثمان رضي الله عنه هغو ته وويل چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: څوک چې د الله تعالى د رضا لپاره جومات جوړ کړي، پرته لدې چې ځان ښودنه او شهرت يې موخه وي، نو الله تعالى به هغه ته د هغه د کار له جنس څخه غوره بدله ورکړي، چې هغه بدله هغه ته د الله تعالى لخوا په جنت کې د کور جوړول دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65089